Share
Twittern

سراج الحق ببرک زی ځدران
۲۰۱۲/۰۵/۱۷

دپښتون ولس اوافغان ملي دولتونو ترمنځ
د ډيورنډ استعماري سره کرښه
(دوهمه برخه)

۵ . د پنجاب پوځي ډيکتاتوري رژيمونه او ازاد قبايلي پښتانه:
پاکستان پنځه شپيته کاله مخکې په لومړی ځل د نړۍ په نقشه کې راښکاره شو. دغه هيواد تر اوسه د پښتنو په وړاندې د انګرېزي ښکيلاکګر دوومخي تورسياست، منافقت او سپين سترګېتوب څخه لاس په سرشوي نه دی.
نړيوال پوهيږي چې پاکستان په ورستيو شپيتوکالونوکې ونشواي کړي، خپلواکه قبايلي سيمه تر خپل دولتي کنترول لاندې راولي. که قبايلي وګړو غوښتلي، دوی به په شپيتو کالونوکې د پاکستان دولتي قوانينو ته سر ټيټ کړي وي. نړيوال هم په دې پوهيږي چې قبايلي سيمه ديوي پيړۍ څخه د دولتي قانون تشه او ناامني ځوروي. مورږ ټول په دې پوهيږو چې ازاده قبايلوسيمه يواځې او يواځې د يو پښتون افغان ملي دولت په اداري چوکاټ کې، چې د دوی سياسي اراده په کې جوته شي، ټولنيز امنيت، کولتوري ارزښتونه په کې خوندی او تضمين شي، دغه سيمه د پنجاب يرغلګر پوځ، دبهرنيوترهګرو او سختديزو اسلامي بنسټپالو د جګړو له اور څخه د تل لپاره خلاصيدی شي. قبايلي سيمه ۲۲۰۲۷ کيلومتر مربع مساحت لري، اټکل څلورميليونه پښتانه په کې مېشت دي. دقبايلي سيمې سره د افغانستان پنځه ولايتونه لکه نورستان، کنر، ننګرهار، خوست، او پکتيا لګيدلي دي.
قبايلي سيمه د پاکستان په اساسي قانون کې ځانګړي ځای لري. د پاکستان په اساسي قانون کې دقبايلو يا فاټا په اړه داسي ليکل شوي دي. د پاکستان د ولسي جرګې لخوا تصويب شوي قوانين هيڅ وخت په قبايلي سيمه او يا دقبايلو په ځينو برخو کې نه تطبيق کيږي. تر څو د پاکستان ولسمشر لخوا امر ورکړي شوي نه وي او داسي امر د پاکستان په دې لنډ تاريخ کې هيڅ وخت ورکړل شوي نه دی. (۳)
پاکستان د خپلې ستراتيجکی پاليسي پربنسټ غواړي، افغانستان، پښتونخوا او قبايلي سيمه کې د پښتنو او قبايلي مشرانو نه هيريدونکي، نه ماتيدونکي هود چې موخې د ډيورنډ کرښې رسمي ټولول، د خپل پلارني هيواد او خپلې مورنۍ خاورې افغانستان سره يو ځای کيدل دي، خنډ جوړ کړي.
پنجابي جنرالان او د ايران ليوني شيعه اخوندان په خپل ګاونډ کې د يو ځواکمن، خپلواک او يوموټي پښتون افغان ملي دولت جوړولو مخه ونيسي. پنجابي او ايراني رژيمونه په سيمه کې د پښتنو افغانانو اټکل پنځوس ميليوني خپلواک باثباته ملي دولت رامنځته کيدل زغملي نشي، دوی پوهيږي دافغان ملي دولت رامنځته کيدلو سر په سيمه کې د دريو ګاونډيو هيوادنو ترمنځ د قواو توازن نوي تنظيم کيږي. دايران او پنجاب استخباراتي او بريندی خيرني لاسوهنې په يو نوي سيال خپلواک، ځواکمن ملي دولت کې ناشوني کيږي . له همدی امله دپاکستان پنجابي پوځ لخوا دپښتنو هيواد پالنې، د پښتنود يووالي پاک احساسات، دپښتنو ملي او خپلواکي خوښونکي غورځنګونه په اسلامي بې نامه او بې نشانه احساساتي، سختديزه کانالونوکي راټيټ، ويشل، نسټل او ورک کيږي. د پنجاب واکدارانو تل هڅه کړي دکرښې په دواړو خواو کې د پښتنو تاريخي اړيکې، د افغان ولس ولسي يووالي او ناسيونالیستي ويښتيا وځپلي.
د افغانستان او د پښتنو په اړه د پاکستان په ستراتيجی کې هغه مهال بدلون راغې، کله چې مجاهدينو د پخواني شوروي اتحاد په وړاندې جهاد پيل کړو. دپاکستان نوي ستراتيجی په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد او متحده ايالاتو د جګړو بنسټ کيښود. د امريکې لخوا په ميلياردونه ډالر د اسلام ځواکمنيدو لپاره سيمې ته راوليږل شول. د دغو مرستو يوه ډيره برخه دپښتنو په سيمو کې پر زرګونو ديني مدرسو جوړولوکې ولګيدي. قبايلي سيمو کې امريکايي مرستې او پاکستاني ديني مدرسو جوړول د پښتنون ستر ولس دځوان نسل څخه د دوی روا برحقه دبيا يوالي افغاني او پښتني پاک احساسات واخيستلو.
دابايد ويرنشي، چې پښتنوپه خپل اوږد ستړي ستومانه تاريخ کې تل د يرغګرو پوځونو په وړاندې د خپلو پوځي تجربو څخه کار اخيستي دی. دوی تل په خپل تاريخ کې دخپلو کولتوري لرغوني ارزښتونو او په ځانګړي توګه د پښتنو د عزت کوډکس پښتونوالي څخه دفاع کړي ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پاکستان د خپلې نوې ستراتیجۍ په بهیر کې دملک سیستم او پولیټیکل ایجنټ کولونیالستي جوړښت ورو ورو لمنځه یوړو. د پاکستان پوځ قبایلي سیمه کې دپولیټیکل ایجنټ دولتي واک خپل سیاسي ملا ته په لاس کې ورکړو. سیاسي ملا ورو ورو د ډیورنډ په نه کنټرول کیدونکې کربنې باندې د وسلو او مخدره توکو قاچاق او ترافیک له املې هم د اقتصادیو ځواکمن سمبول وګرځیدو.
پنجابي پوځ او ای ایس ای د پښتنو قومي ملي مشرانو څخه ولسي واک واخیست، ځینې قومي مشران ووژل شول او ځینې قبایلي مشران کدوالي ته مجبورکړل شول. قبایلي ملکان مجبور کړل شول چې د سیاسي ملا واک ومني، ترهغې چې د ملکانو څخه ټول واک په یو وار واخیستل شي.
دبرتانوي کولونیالیزم د انګرېزانو نیواکګر سیاست د پښتنو په خاوره کې ویش رامنځته کړي وو، دانګریزانوظلم سیاست په وړاندې د پښتنوغبرګون د دوی تاریخي یوالي، ناسیونالیستي احساس او ملي ویښتیا په ځواکمنیدو کړي وه. پاکستان د خپلې نوې ستراتیجي دعملي کولوسره د پښتنودبیا یوالي احساس، د پښتنو دبیا یوالي تاریخي حق او غورځنګ په اسلامي سختدریځي او بنسټپالنه کې ورمات کړو.(۴)
پاکستان تل په افغانستان کې په سیاسي، پوځي، اقتصادي کچه یوکمزور او په کورنیو چارو کې بوخت د دوی پلوی کمزوري حکومت غوښتی دی. چې له یوې خوا د خپل زورور مشر ورور هند ته ارامه وي. له بلې خوا پاکستان پرته له افغانستانه په سیمه کې ډېر یواځی دی. پاکستان نړدي خپل ټول عمر له همدې املې په پوځي رژیمونو کې تېرکړی دی.
پاکستان نه یواځي د نړۍ یوګوابښمن، ناکامه او منظوي شوي هیواد دی، بلکې پاکستان نړۍ ته یوګوابښمن او ویره اچونکي هیواد ګرځیدلي دی. پاکستان له پیدایښته په نړۍ کې د جبهواو کرکیچو دولت پیژندل شوی دی. د هندسره په پوله د کشمیر لانجه له افغانستان سره د ډیورنډ لاین لانجه چې تر اوسه پاکستان ونشوای کړی حل کړي.
پاکستان اوس هغه پاکستان نه دی اونوره نشي کولې دپښتون افغان سترولس دبیا یوالي ویښ ځواک په چل او دوکوکي وځپي. ځکه پښتانه افغانان اوس هغه پښتانه نه دي چې د پنجابي جنرالانو په خبرو دتل لپاره غولیږي. اوس ان غولیدلي پښتانه د خپل هیواد او ستر ولس دوست او دوښمن ډېر ښه پیژني.
ډیورنډ د کربنې دواړو خواو ته له پیړیو راهیسې پښتانه اوسیږي، د دوی په منځ کې له یو بل سره ژوري کلتوري، تاریخي او ژبنۍ نه شلیدونکي اړیکي په ډیردو دي. د ډیورنډ اوږدې کربنې په دواړو غاړو کې ګډې کورنۍ اوسیږي، له همدې سره په سیمه کې د پښتون ولس دبیا یوالي احساس یوځلې بیا د لروبر یو افغان چیغه او غورځنګ په ځواکنمیدو دی.

۶ . قبایلو کې د انګرېزانو ښکیلاکګر ټولنیز تور تړون باندې پاکستان خپل استعماري څادر وغوړولو د انګرېزانوله ماتې او وتلو سره سم د قبایلو اداري سیستم کنټرول پاکستاني پوځي رژیمونوته په لاس ورغي. دغه نوي په پښو نه ودریدلي دولت له خپلې لومړۍ ورځې څخه دافغانستان سره په سرحدي کرکیچ د ډیورنډ کربنې کرکیچ باندې اخته شو. د ډیورنډاستعماري کربنې د پاکستان نوي دولت راتلونکي سیاست په سیمه کې وټاکه.
د۱۹۴۷ کال په پیل کې پاکستان کوم منظم پوځ نه درلود، پنجاب د وزیرستان د ازادو قبایلو څخه یو لښکر دکشمیر نیولو لپاره ولیږدو. له همدې سره د هند او پاکستان لومړۍ جګړه پیل شوه. پاکستان د خپلې لومړۍ ورځې څخه پښتانه قبایل د خپلو سیاسي تورو موخو لپاره استعمال کړل.
پاکستاني دولتونواو رژیمونوتل پښتانه قبایلیان ته د اړتیا په صورت کې دیوې سیاسي اله په څیر کتلې دي. پاکستاني پوځي رژیمونولکه انګریزانود دې اړتیا نه وینې چې په قبایلو کې سیاسي، ټولنیز او پرمختیایي وادي پروګرامونه پلي کړي. پنجابي رژیمونو لکه انګرېزانو دپښتنوقبایلي سیمې ته د ټولنیز پرمختګ او ولسواکۍ مخه نیولې ده.
تر ۲۰۱۰ کاله پاکستان په خپلې ستراتیجکي لیوالتیا کې د پښتنو سیمې ته لکه انګریزان پښتونخوا ته (د صوبه سرحد) او قبایلي سیمې ته (د فاټا) په څیر کتلې دي.
په ټولیزه ټوګه پاکستان په قبایلي سیمه کې دانګرېزانو د کولونیالیستي اداري میتودونه څخه کار اخیستي دی. دغه ټولنیزه ښکیلاکګرسیاسي سیستم د پولیټیکل ایجنټ، دملکانو سیستم، صوبه دار او خصدار په منځ کې را څرخي.(۵)

په ۱۹۷۱ کال کې کله چې بنګلدیش له پاکستانه بیل شو، له یوې خوا پاکستان ټوته او بې ثباته شو، له بلې خوا کله چې ستر افغان هیوادپال، میرني مسلمان شهید سردار محمد داوود خان لر او بر پښتنو افغانانو ته د بیا یوالي ملي بلنه ورکړه، تر څو خپل تاریخي هیواد لوی افغانستان په نړۍ کې بیا را ژوندي کړی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داسلام اباد پوځ او دای ایس ای مشرانو د افغان ولسمشر په غبرګون کې له یوې خوا ځینې ساده، لند فکره، ناپوهه، کم تجربه، احساساتي، د پردیو په قوماندو ولاړ بې احساسه خلک او دنړیوال حقوقو، سیاست، حکومتوالي، دافغان ملي توریالي تاریخ څخه بې خبره افغانانو ته پاکستان کې ځای ورکړو، له بلې خوا پنجابي رژیمونو د پښتنو په قبایلي سیموکې په مذهبي وسله د پښتنو د ځپلو لپاره په زرګونو دیني مدرسو کې ځښته ډیره پانګونه وکړه.
دپنجاب ای ایس ای ملایانو د پښتنو د یوشمیر مذهبي ګوندونو مشرانو او مخکښانو مغزه د اسلامي انترناسونالیزم یا جهادي ایدیالوجي په نامه ومنیځل .تر څو پښتني خاوره ویشلي اوپه وینو لړلي وي او تل پښتانه ځوانان دپنجابي ای ایس ای له شرمه ډک او تور پلانونه د عملي کولو لپاره دارلحرب افغانستان ته د تاوتریخوالي لپاره ولیږل شي.
وزیرستان د افغانستان پولې ته ځیرمه هغه قبایلي سیمه ده، چې د لویدیزو هیوادونو او رسنیو د راپورونو له مخې په زرګونو سخت دریزي وسله وال په دیني مدرسو کې روځل کیږي او په سیمه کې فعال شتون لري او له دې ځایه په افغانستان کې پر کورنیو و بهرنیو ځواکونو بریدونه پلانوي.
پاکستان د همدې لارې د پښتنو دخداي ورکړي دملي یوالي حقه حقو ق د ملي دولت جوړولو مخه ونیسي. پنجابي جنرالانود نړۍ مسلمانان دکشمېر دجهادپر نامه تیر ایستلي دي. اوس دنړۍ مسلمانان دځینو پښتنو مذهبي مشرانو څخه پوښتنه لري، هغه داچې اول ځان بیا جهان دی، ځیني پښتانه مذهبي مشران له یوې خوا خداي ته د خپل لر اوبر افغان مسلمان ویشلې ولس یوالي ته دوعا نه کوي او نه یې یادونه کوي، هغه ستر ولس چې انګرېزي استعمار ویشلي دی او له بلې خوا دغه ملایان بیا د نړۍ دمسلمانانو یوالي غواړي؟

۷ . د پاکستان کورنۍ جګړه او خونړي کړکیچونه:
پاکستان کې یو نه بلکې دري خونړي جګړیز کورني کړکیچونه شتون لري. دغو کړکیچونه اوس پاکستان د کورني جګړې کچې ته رسولي دی. د پاکستان کړکیچونه له یوبل سره مستقیم او غیر مستقم اړیکې لري او د کړکیچونو ځواک د افغانستان پر جګړې ستره اغیزه شیندلي ده. دپاکستان په تاریخ کې څلور صوبې یو بل ته نږدې شوي نه دي، بلکې له یو بل څخه دخپلواکې په لور په واټن کې رواني دي.
پښتونخوا او بلوچستان کې د پښتنواو بلوڅپاڅونونه د مرکزي حکومت په وړاندې په ګډه سره روان دی.
۱. د پاکستان د جوړیدو څخه ترننه دبلوچستان ایالت،د بلوچو حقوقو، اقتصادي، تولنیزو پرمختیا او ودې ته پاکستان کې هیڅ پام نه کیږي. له همدې امله بلوچستان کې مقاومت او پاڅون د پنجاب یرغلګرو پر وړاندې یوتوکمي نیشلیستي یا ملتپالني رنګ اخیستي دی. د بلوڅو دخپلواکۍ غورځنګ موخه مساوي حقوق او دپاکستان څخه خپلواکۍ ده.
دبلوچستان ایالات دخپلې پلازمېنه کوټه ښار سره د ډیورنډ کرښې په ځیرمه کې پروت دی او ډیورنډ کرښې ځیرمې ته دبلوچستان دکویټې ښاراکثریت وګړي پښتانه دي. په بلوچستان کې بنسټیال سخت دریځ سني مذهبه پښتانه او بلوڅان دڅو کلنو راهیسې په ګډه سره د پاکستان څخه د خپلواکۍ او دخپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره په ګډه مبارزه کوي. پښتانه او بلوڅان دتیر څو کلونو راهیسې له پنجاب څخه د خپلو حقوقو او خپلواکۍ ترلاسه کولولپاره مبارزه کوي. پاکستان کی له بلوڅانو څخه وروسته اوس سندیانو هم د خپلواکۍ غږ پورته کړي دی.
د امریکا ملي شورا یو وړاندیز لیک وړاندې کړي، چې بلوڅان په تاریخي ډول دیوخپلواکه هیوادحق لري، ځکه پاکستان کې د بلوڅانوله حقوقو سره زور زیاتي کیږي او پرته له محاکمې څخه دوی وژل کیږي.
د همدې لاملونو پر بنسټ پښتونخوا او بلوچستان کې جګړې د افغانستان له جګړې سره نشلیدونکي تړاولري. اوس قبایلي سیمه یا منځې پښتونخوا، دخیبر پښتونخوا او بلوچستان یاسهلي پښتونخوا د خونړیو جګړو ډګرونه ګرځیدلي دي. د ازاد قبایلو کورنیو او لروبر پښتانو قبیلو ترمنځ د انګریزانو لخوا د کاغذ پر مخ د ډیورنډ دبیلتون کرښه ایستل شوي، ازاد قبایل د ډیورنډ کرښې په بله خوا کې دافغانستان له پښتنو او قبایلو سره دپریو پریو څخه نږدي، نشلیدونکي د خپلوي او وررګلوي اړیکې لري.
۲. د ۱۹۸۰ کالونو را په دیخوا د پنجاب مرکزي حکومت لخوا د شعیه او سني سختدریزه اورپکو ډلو ترمنځ د تشدد او دترهګریزیو ډک کړکیچونو اور ته لمن ووهل شوي.
۳. اوس د دغو خونړیو کړکیچونو توکمي او کورني جګړو اور لمبې د کراچي ښار چې میلیونه وګړي لري، بلې شوي دي. دکراچي ښار خونړي کړکیچونه د افغانستان له کړکیچ سره غیرمستقیم تړاو نه لري. د پاکستان سند ایالات د اقتصاد په مرکز کراچي ښارکې کورنۍ جګړه د سندیانو او د هند څخه راغلي اکثریت مهاجرو ترمنځ راوانه ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کراچي ښار ته راغلي ښاري مهاجر پنجابيان د پاکستان له بنسټ څخه ځان له کليوالي سنديانو څخه اصلي پاکستان جوړونکي بولي.
دپاکستان د کورنيوستونزو د ډيريدو اصلي لاملونه د امريکا پر مرستو ډډه لګول، پر پوځ او استخباراتو د حکومت د کنترول نه شتون، د لږکيو نه خوندیتوب، د طالبانو او د نورو وسله والو ډلو تر کنترول لاندې سيمو کې د ثبات او امن نه راوستل دي.

۸ . د پاکستان يرغلګر پوځ:
په ۱۹۴۷ کال کې دپنجابي پوځ د برتانوي کولونيالستي نيواګر پوځ څخه وزيريدو. د پاکستان کولونيالستي پوځ دومره پوهه نه لري چې په سياسي چارو او سياست کې ځان ورګډ نه کړي، د پنجاب پوځ د ملکي اداري اوامر او هدايات په ملکي خلکو باندې په زور عملي کوي. د دولت بنسټ ايښودونکي د علي جنا ح پوځ داکار په وضع ډول هم تر سره کړي دی.
د څو لسيزو څخه دهند او پاکستان د امنيتي چارو ادارو او کړيو کې دا فکر بر لاسي وو، چې افغانستان کې د دولتي واک تښه اوجګړې، ددوی سياسي، اقتصادي، پوځي ستراتيجيکو پاليسيو اوليوالتياوو په ګټه دي. هند او پاکستان د افغانستان اوږد تاريخ ته په کتو سره دووارو هيوادونه په خپلو سياسي او امنيتي چارو کې دافغانستان په اړه په ستراتيجکي ډول په يوه خوله شوي ول. پاکستان تل په افغانستان کې اوبه دومره خټولې يا جوشولي تر څو دی پري و نه سوځي. اوس دافغانستان دجګړو اور لمبې په ټول پاکستان کې خپري شوي دي.
ظاهرآ د پاکستان پوځي مشران په دې ان دي، د هند پو ځي بريدپه صورت کې به پاکستان دخپلو پوځونو لپاره افغانستان څخه دپنا ځای په توګه کار واخلي.
دهند دولت هم دخپلې سيمه يزه ستراتجيکي ليوالیا په چوکاټ کې افغانستان کې د واک تشه ته ليواله دی. دهند پاليسي د افغانستان او پاکستان په اړه په دې لټه کې ده چې پاکستان په افغانستان کې بايد دومره بوخت وي، تر څو د پاکستان پام د کشميرخوا ته ورو نه اوړي. له همدې امله هند شمالي ټلوالي ته سياسي، نظامي مرستي ورکړلي. تر څو په افغانستان کې د جګړمارو ډلو ترمنځ تعدل وساتل شي. افغانستان کې په ورستيو څوکالونوکې د دواړو هيوادنو ستراتيجکو ژورې اوليوالتياووي ناکامه ثابته شوي. اوس دهنداو پاکستان ستراتيجي او پاليسي د افغانستان په اړه دبدلون په حال کې دي. دهند دولت پوهيدلي چې د دوی ستراتيجکي موخې د لږکيو څخه د ملاتړ لاري نه ترلاسه کيږي.
پاکستان په سيمه کې يوناکامه دولت دی. پاکستان د يوه ناورين په درشل کې دی. پاکستان د ګډودي او انارشي پر لور روان دولت دی. پاکستان ټول هغه سياسي فرستونه، ظرفيتونه له لاسه ورکړي دي، چې دی خپل مجهوله سياسي جغرافيايي جوړښت وساتي. پاکستان د ګډوديو او انارشيو او کورنې جګړو په لوري روان هيواد دی. پاکستاني سياسي چارواکي نوره نشي کولې، پاکستان له دغې ناورين څخه راوباسي، پاکستان ډيري زوري کندې ته ورنږدې کيږي او ديوګوسلاويا په برخليک باندې اخته کيږي. د دغی هيواد د پوځي ډيکتاتورانو مورال او ځواک ورستي کچې ته راټيټ شوي دی. پاکستان کې د کورنيو ستونزو جګړو ډيريدو له امله د دولت واک، کنټرول په ټول هيواد کې نشته. په پاکستان کې وسله والې سختدريزه ډلې ډير کنټرول تر لاسه کړي دی. دولت پر پوځ او ځارکړي اداره کنټرول نه لري. د پاکستان هيواد د دولت په دننه کې په دريو دولتونو باندې ويشلی شوي دی.

۹. قبايلي سيمه کې د عربي جنګياليو اغيزه:
افغانستان سره د عربو سياسي ليوالتيا دشوروي سور پوځ له يرغل سره ډيره شوه. عربي دولتونو او دعربوخيرښيګڼي مرستندويه ټولنو په پښتونخوا او قبايلي سيمه کې افغان کډوالوته د ميلياردو نو ډالرو مرستې پيل کړي. عربي هيوادوافغان مجاهدينو ته د جګړو لپاره مرستې هم پيل کړي. د سعودي عربستان پاچاملک فهدپه خپل يو سياسي اعلان کې وويل، مجاهدينو ته د امريکا دهر ډالر سره به زمونږ ډالر هم مل وي. داپيسې دوسلو په پريدولو او لږدولو کې هم ولګيدي. مجاهيدينو ته يواځې د سعودي عربستان مرستې د شوروي اتحاد تر وتلو پوري د څلور ميلياردو ډالرو څخه ډيري وي. (۶)
د ۱۹۹۰ کال څخه را په دېخوا شهزاده توركي بن فيصل د افغانستان لپاره د عربي مرستود يو دفتر مشر کوله، ده افغانستان کې د سعودي عربستان ددومره ډيرو مالي، اقتصادي، سياسي ستراتيجکو مرستو او موخو دپښتني په خواب کې وويل. دري لاملونه وو، چې زمونږ ياد سعودي عربستان کورني او بهرني سياست لاس په لاس تللو.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لومړی، د ۱۹۵۰ کالونو څخه دکمونیزم پر وړاندې مبارزه د سعودي عربستان د بهرني سیاست منځ زړي جوړولو، له همدې امله سعودي عربستان د افغانستان او اسلامي نړۍ سره دغه بیساري مرستي پیل کړي. دوهم، په خاصه توګه سعودیانو د جمال عبدالناصر پان عربي نشنلیزم ته دخپل سعودي پاچا السعودکورنۍ مشروعیت اوسعودي واکمنه ته د لمنځه تللو په ځیر کتلو. سعودي عربستان پان اسلامیزم د پان عربیزم نشنلیزم په وړاندې دیوې ایدیالوجي په توګه وکارلو.
دریم . په اسلامي نړۍ او منځني اسیا کې د شیعه ایران د اغیزې مخه نیول وو. (۷)

د افغانستان په جهاد کې د ځوانو عربي جنګیالیو شمیر ه د پام وړ وه، قبایلي سیمه کې په یوه وخت کې د دریو څخه تر څلور زرو پوري عرب جنګیالیو شتون درلود.(۸) دغو عربي جنګیالیو د سخت دریزې او بنسټپالنې ایدیالوجۍ یا اسلامیزم د سپیڅلي دودیزه اسلام په بدل کې د پښتنو په سیمه کې خپره کړه.
پاکستان دسعودي عربستان دپان اسلامیزم ایدیالوجۍ څخه د پښتنو دبیایوالي او ناسیونا لیزم په ځپلو کې د یوې بنې مذهبي وسلې په ځیر کار واخیست. سعودي او پاکستان په ډېرو ښکاره او پټو چینلونو کې یو د بل سره د ګټو لپاره کار کوي.
د مصر جمال عبدالناصر پان عربي ناسیونالیزم ایدیالوجۍ ته دپښتنو د بیا یوالي د ویرې له مله پاکستان کې ځای نشته.
په ټولیزه توګه که قبایلي یا فاټا سیمې ته په سیمه یزه توګه او جیو ستراتیجک ډول له بهرڅخه وکتل شي، دغه سیمه د یوکړکیچن چاودیدونکي کړکیچ او د زلزلو ګوابنمن مرکز جوړوي. قبایلي سیمه د نړۍ یوه ګوابنمنه سیمه ګڼل ګیږي. دغه سیمه د افغانستان، بلوچستان او کشمیر ترمنځ پرته سیمه ده، چې په کې د ځولسیزو راهیسې ماتیدونکي، نه اټکل کیدونکي سیمه یزه خونړي کړکیچونه روان دي. په دغو دریواړو کوکیچونو کې پښتانه یو ډول رول لري .
د قبایلي سیمې ځانګړي ځانګړتیا په دې کې ده،چې دغه سیمه د پنځو اټومي ځواکونو پاکستان، متحده ایالات، چین، هند او دروس امنیتي سیاسي کانسپټ له ګواښ سره مخامخ کړي دی. په جیو سیاسي کچه ایران ته هم له دغه سیمې څخه ګواښ شته دی. (۹) تر ټولو لومړۍ د پاکستان اټومي وسلې او اټومي تاسیسات تر جدي ګواښ لاندې دي.

د دوهمې برخې پای

اخیځلیک:

3. Constitution of Pakistan, Part 12, Chaper 3, Paragraph 247
4. Zur Diskussion der komplexeem Beziehung zwischen paschtunischem Nationalisum und islamischem Universalisum siehe:Oliver Roy, The Taliban: strategie Tool for Pakistan in : C.Jaffrelot,Nationalisum without a Nation, London 2002,S.149
5. Oliver Roy , The Talibn : Strategic Tool for Pakistan, in C.Jaffrelot, Nationalism without a Nation, London 2002, S. 149-160 .
6. Vgl. Ahmed Raschid, Taliban, Islam,Oil and the New Great Game in Central Asia, New York 2000,S.197
7 . Robert Lacey, Inside the Kingdom. Kings, Clerics, Modernists, Terrorists, and the Strugglle for Saudi Arabia, London 2009, S.66
8. Mohammed Hafez,Jihad after Iraq. Lessons from the Arab Afghans, in: Studies in Conflict & Terrorism, 32 (2009) 2,S.76 .
Die letzte 9. Zentrum für Entwicklungsforschung (ZEF) Universität Bonn- Conrad Schetter: .Die paschtunischen Stammesgebiete zwischen Taliban und NATO, 2006 : Grenze

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ